سلطان جان کلیوا ل

۲۰۲۱/۱۲/۱۴

# جـا هـــله!

هـم دی پـه ځـان هـم دی پـه مـونږ جـوړ کـړی
دلـتـــه پـــه دي دنیـــا قـیامـــت جـــا هـــله !

شـــر جـــوړول خـــو د ابلـیـــس دنـــده ده
ســـتا ولـــی خـــوښ شـــو شـــرارت جاهـــله !

کـــه میـــنه نـــه پـیژني مـــه یـــی کـــوه خـــو
مـکـــــړه د بـــل مُـخـالــــفت جـــا هـــله !

سلـطـــنت کـــیږی پـــه نرمـــی پـــه زړونـــو
نـــه شـــي پـــه زور پـــه زړه حکومـــت جاهلـــه !

تمـــیز د ښـــه او بـــد پـــه پوهـــه کـیـــږی
پـــه توپـک نـــه شـــی قضـــاوت جـــا هـــله !

نـــه ده دنیـــا تـــوله د چـــا دښـمـنـــه
چـــی نـــه وی ځـــوک ډیـــر ملامـــت جاهـــله !

تـــول بنیـــادم چـــی کـــوم شـــریک شـــی لـــری
د هغـــه نـــوم دی انسانیـــــت جـاهـــــله !

ځـــان دی لـــه دی صـــفه خـــارج کـــه کړلـــو
تـــولګی تـــه ځـــي د حیوانیـــت جـاهـــله !

د خـــدای ج پـــه حکـــم ځانتـــه ورکـــړه تغیـــر
لا هـــم لـــری کافـــی فرصـــت جـاهـــله !

دنیـــا ښـایســـــته ده او ژونـــد دی امانـــت
خیـانـــــت نـــکړی امانـــت جـــا هـــله !

دیسمبر/۲۰۲۱/۸ (اجکس – هورنتو – کانادا)


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلي مقالي دي آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com